2 017550 139621

# مسیر

ورځپانه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د نومبر لسمه | ۴۵۹مه ګڼه

## پوهنتون

۴ مخ

### احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه د زون په سطحه هغه یوازینۍ موسسه ده، چې په طبي برخه کې محصلین روزي او د محصلینو ډېره برخه یې هم ښځینه محصلینې دي.



## د رایو د بیاشمېرنې بهیر؛

### دریو ټاکنیزو ډلو د رایو د بیاشمېرنې له بهیر سره پرېکون اعلان کړی



۳

### افغانستان د یوه بل ټاکنیز کړکېچ پر څنډه

۲ مخ

### د شانګهای همکارۍ سازمان اتلسمه ناسته او پر افغان سوله یې اغېزې

۲ مخ

### په امریکا کې ۳۸ میلیونه کسان له بېوزلۍ ځورېږي

۳ مخ

### د یوه افغاني شرکت له خوا په کابل کې دوه ورځنی روغتیایي نندارتون جوړ شوی دی



دیوه افغان شرکت لخوا د سیمې د هېوادونو تر منځ د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا او هېواد ته په لوړ کیفیت درمل واردولو په موخه، په کابل کې روغتیایي نندارتون جوړ شوی دی.

د (پاک – منځنۍ اسیا روغتیایي دوه ورځنی نندارتون) د افغاني شرکت «صیام بېزنیز» او پاکستاني شرکت «ګلوبل اسیا» په نوښت په کابل کې جوړ شوی او ۴۰ غرفې چې لس یې د پاکستان دي، درملیز توکي ننداري ته پکي وړاندې شوې دي.

د «صیام بېزنیز» مشر صیام د دې نندارتون د پرانیستې پر مهال خبریالانو ته ویلي، د دې نندارتون د جوړېدو موخه دا ده چې د سیمې له هېوادونو سره د افغان سوداګرو اړیکې پیاوړې شي، په افغانستان کې بهرنۍ پانګوال وهڅول شي، د خلکو د لپاره د کار لارې چارې برابرې شي.

هغه زیاته کړې: «له بده مرغه موږ هر کال په نورو هېوادونو کې شاوخوا ۷۰۰ میلیون ډالره پر افغان ناروغانو لګول کېږي».

### ستولټنبرګ: طالبان له نظامي لارو واک ته نه شي رسېدلی

د ناټو عمومي منشي ینس ستولټنبرګ جرمني ته د سفر پر مهال ویلي، څو چې طالبانو له تاوتریخوالي لاس نه وي اخیستی، دوی له افغانستانه نه وځي.

هغه زیاته کړې، طالبان له نظامي لارو افغان ځواکونو ته ماتې نه شي ورکولی او په دې توګه دې هېڅکله د واک خوب نهویني.

نوموړي ویلي، په افغانستان کې له ستونزو سره سره د پام وړ پرمختګونه هم شوي دي.

هغه ویلي، افغان امنیتي ځواکونه هغه دنده پر مخ وړي چې مخکې د نړیوالو ځواکونو پر غاړه وه او دا د دې ښکارندویي کوي، چې دوی پیاوړي شوي او طالبان له نظامي لارو نه شي کولی واک تر لاسه کړي، نو غوره به وي چې خبرو اترو ته غاړه نرمه او له سیاسي لارو په دې هېواد کې رواني اوږدې جګړې ته د پای ټکی کېږدي.


ستولټنبرګ د افغان ځواکونو پر ملاتړ د ټینګار تر څنګ ویلي، له نړیوالې ترهګرۍ سره د مبارزې تر ټولو غوره لار دا ده چې دوی د افغان ځواکونو ملاتړ او روزنې ته دوام ورکړي.

په ورته وخت کې د جرمني لومړۍ وزیرې انګېلامېرکل هم ویلي، چې هېواد یې چمتو دی څو له خپلو متحدینو سره یوځای د افغانستان د روان کړکېچ په حل کې خپل رغنده رول ولوبوي. هغې دغه راز یوځل بیا ټینګار کړی چې د افغانستان روان کړکېچ نظامي حل نه لري، نو اړینه ده چې د دغې جګړې د پای ته رسېدو لپاره پر سوله ییزو لارو غور وشي.

### افغان حکومت د نشه یي توکو لوی قاچاق کوونکي نه نیسي

۲ مخ

### ریاست اجرائیه: نشست بین الافغانی در چین تا دو هفتهٔ دیگر برگزار می‌شود



ریاست اجرائیه حکومت وحدت ملی می‌گوید که نشست به تعویق افتادۀ بین الافغانی، قرار است تا دو هفتهٔ دیگر در شهر بیجینگ، پایتخت چین برگزار شود.

در این نشست، نماینده‌گان حکومت افغانستان، طالبان و سیاسیون شرکت خواهند کرد. این نشست قرار بود به تاریخ ۲۹ و ۳۰ اکتوبر برگزار شود، اما به دلایلی به تأخیر افتاد.

امید میثم، معاون سخن‌گوی ریاست اجرائیه در این باره گفت: «هیئتی که قرار است تا دو هفتهٔ دیگر به بیجینگ برود و ما شاهد یک نشست بین الافغانی باشیم، مشوره‌ها و رآی‌زنی‌های این هیئت جریان دارد». در همین حال، ارگ ریاست‌جمهوری نیز می‌گوید که هیئت شرکت کننده در این نشست نهایی شده‌است؛ اما تاکنون نام‌های افرادی که در ترکیب این هیئت استند، همگانی نشده‌اند. صدیق صدیقی، سخن‌گوی رئیس‌جمهور در این باره گفت: «کسانی که قرار است در آینده در نشست چین اشتراک بکنند، این‌ها از اقشار مختلف جامعه افغانستان نماینده‌گی خواهند کرد». شماری از اعضای پیشین گروۀ طالبان و اعضای ولسی جرگه نیز می‌گویند که نباید در گفت‌وگوهای صلح فریب و نیرنگی در کار باشد. شهزاده شاهد، عضو پیشین ولسی جرگه بیان داشت: «به‌عنوان صلح هیچ گاهی نباید فریب باشد، منافع شخصی نباشد و خواست‌های مردم در نظر گرفته شود و هیچ چیز نادیده گرفته نشود».

سید اکبر آغا، عضو پیشین گروۀ طالبان نیز اظهار داشت: «خبر خوب این است که ملت در جریان باشد و به همه روشن باشد و تلاش‌های صلح باید روشن باشد».

Shigal English Academy
شیګل انګلیش اکاډمي
Easy English learning
DEL
TOEFL iBT
shigal.edu@gmail.com Shigal English Academy www.shigal.edu.af +93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریــځ

### افغانستان د یوه بل ټاکنیز کړکېچ پر خنډه

افغانستان عملاً له یوه بل ټاکنیز کړکېچ سره مخ دی. د ټاکنو له تر سره کېدو تر یوې میاشتې ډېر وخت تېرېږي، خو لومړنۍ پایلې یې لا هم نه دي اعلان شوې. د کمېسیون له لوري په وروستي ځل پر اعلان شوې نېټه هم د لومړنیو پایلو د اعلان په تړاو شکونه راپورته شوي، ځکه د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ځینې غړي وایي چې د لړم په ۲۳مه نېټه هم د لومړنیو پایلو اعلان ممکن نه دی. پر دې سربېره، تازه د ملي یووالي حکومت د اجرایه ریيس ډاکټر عبدالله په مشرۍ ټاکنیز ټیم د بیاشمېرنې له بهیر سره پرېکون کړی. دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو کمېسیون د مشرتابه د پرېکړې له مخې، د شنبې په ورځ په ټول هېواد کې د بیاشمېرنې او تفتیش لپاره ولایتونو ته د پلاوو او اړتیا وړ موادو د استولو بهیر پیلېږي.

د ټاکنو فلسفه د نظام پیاوړتیا ده او د ټاکنو ټول شریک اړخونه باید دغه اصل ته ژمن پاتې شي. ټاکنې باید د دې پر ځای چې خلک سره وویشي، د هغوی د یووالي لامل شي. د افغانستان شرایط ترینګلي دي او ټول ټاکنیز اړخونه، له کمېسیونه رانیولې تر ټاکنیزو ټیمونو پورې، دغه حساسیت باید درک کړي او مسووولانه چلند وکړي. د ټاکنیزو شریکانو غیر مسووولانه چلند افغانستان یوه بل سیاسي کړکېچ ته ور ټېل وهلی شي او افغانان په دې حساسو شرایطو کې د داسې یوې سناریو زغم نه لري. په هېواد کې ناامني، اقتصادي ناخوالې، راتلونکې ته ناهیلي او ډېرې نورې ستونزې شته چې یوازې د سیاسي مشرانو په درایت او مسووولانه چلند سره حل کېدای شي.

ټاکنیز اړخونه باید د شرایطو ترینګلتیا درک کړي او د ۲۰۱۴ ز کال د ولسمشرۍ ټاکنو د کړکېچ تکرار ته زمینه برابره نه کړي. ټاکنیزو ټیمونو او ټاکنیزو کمېسیونونو دواړو ته پکار ده چې د ولس رایې ته درناوی وکړي. په ځانګړي ډول ټاکنیز کمېسیونونه باید د روڼتیا تر تضمین وروسته، د پایلو د اعلان جرئت وکړي. خلک غواړي چې د رایو پایله یې معلومه شي او هغه څوک د دولت په مشرۍ کې وګوري، چې دوی رایه ورکړې او باور یې ورباندې کړی دی.

ټول ټاکنیز اړخونه، په ځانګړي ډول ټاکنیز کمېسیونونه، له یوه مهمې او تاریخي ازموینې سره مخ دي. د هغوی کوچنۍ تېروتنه او بې غوري د هېواد لپاره خورا خطرناکې پایلې لرلی شي. د کمېسیونونو مشرتابه ته پکار ده چې د هېواد له شرایطو په سالم درک سره مسووولانه چلند وکړي او په دې ډول هېواد چې له وړاندې له خورا ډېرو ننګونو سره مخ دی، له یوه بل سیاسي کړکېچ څخه وژغوري.

# د شانګهای همکارۍ سازمان اتلسمه ناسته او پر افغان سوله یې اغېزې

لیکنه: د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

د شانګهای همکارۍ سازمان د غړو هېوادونو استازي د عقرب میاشتې په ۱۰مه او ۱۱مه نېټه، د دغه سازمان د لومړیو وزیرانو په ۱۸مه غونډه کې د ازبکستان په مرکز تاشکند کې سره راټول شوي وو. د افغانستان اجرایه ریيس ډاکتر عبدالله عبدالله هم د یوه پلاوي په مشرۍ، په دې غونډه کې ګډون کړی و.

د دغه سازمان مخینه د افغانستان له حالاتو سره مستقیمه اړیکه لري او په وروستیو اتو کلونو کې هم د افغانستان په لور د دغه سازمان پاملرنه، اندېښنې او لېوالتیا زیاته شوې ده. په سیمه کې د دغه سازمان ارزښت ته په کتو سره افغانستان هم تېر کال د دغه سازمان د بشپړ غړیتوب د تر لاسه کولو غوښتنه کړې وه.

د افغانستان اجرایه ریيس د دغه سازمان د وروستۍ غونډې په څنډو کې د روسیې، قزاقستان، قرغزستان، تاجکستان او ازبکستان له لومړیو وزیرانو، د ایران د جمهور ریيس له لومړي معاون او د هند د دفاع له وزیر سره هم ملاقاتونه درلودل.

د شانګهای همکارۍ سازمان د لومړیو وزیرانو ۱۸مې غونډې ته په کتو سره، د شانګهای غړو هېوادونو رول په افغان سوله کې څه دی؟ او په ټوله کې د یاد سازمان د غړو هېوادونو رول د افغان کشالې پر دخیلو اړخونو باندې څه دی؟ په اړه یې دلته شننه شوې ده.

**د شانګهای همکارۍ سازمان لنډه پېژندنه**

د شانګهای همکارۍ سازمان په ۲۰۰۱ ز کال کې جوړ شوی، موخه یې د غړیو هېوادونو ترمنځ په امنیتي، سیاسي، تجارتي، اقتصادي او ځینو نورو برخو کې همکارۍ ته وده ورکول دي.

همداراز د شانګهای همکارۍ سازمان د سخت دریځو اسلامپالو ډلو له خوا د راپورته کېدونکو ګواښونو د مخنیوي او له افغانستانه د نشه یي توکو د قاچاق له منځه وړلو په موخه جوړ شوی دی.

د شانګهای د غړو هېوادونو مساحت د آسیا او اروپا په سلو کې ٦۱ خاوره او د وګړو د شمېر له مخې، د نړۍ دویمه برخه وګړي په دې هېوادونو کې ژوند کوي.

اوسمهال اته هېوادونه (چین، قزاقستان، قرغزستان، روسیه، تاجکستان، ازبکستان، هند او پاکستان) د یاد سازمان دایمي غړي، افغانستان، بېلاروس، ایران او د منګولیا هېوادونه یې د څارونکو او ازربایجان، ارمانیا، کمبوډیا، نیپال، ترکیه او سریلانکا هېوادونه یې د خبرو شریکانو په حیث پېژندل کېږي. د یادولو وړ ده چې افغانستان په ۲۰۱۲ ز کال کې د چین په مرسته د دې سازمان څارونکی هېواد شو.

**د شانګهای همکارۍ سازمان د لومړیو وزیرانو ۱۸مه غونډه**

د افغانستان اوسنیو حالاتو ته په کتو سره د شانګهای د همکارۍ سازمان ښکېلتیا د افغان سولې په پروسه کې اړینه ده، له همدې کبله د یاد سازمان غړي هېوادونه د افغان سولې پروسه کې د خپل رول د درلودو له مخې د یاد سازمان پاملرنه هم د افغانستان په لور زیاته شوې او له همدې ځایه ده چې دغه کنفرانس د افغانستان لپاره مهم و. د یادې ناستې ډېره پاملرنه د شانګهای همکارۍ سازمان پر داخلي جوړښت او کارونو باندې وه او په ۲۰۱۸ ز کال او د ۲۰۱۹ ز کال په لړ کې چې کوم کارونه د یاد سازمان له لوري تر سره شوي وو، هغه وارزول شول او د یاد سازمان د ۲۰۲۰ ز کال پر بودجه او پلان باندې بحث وشو. همدارنګه یاد سازمان له نورو نړیوالو ټولنو سره د ګډې همکارۍ په موخه تفاهم‌نامې هم لاسلیک کړې او په یاده ناسته کې په سیمه کې د چاپېریال په برخه کې ګټوره همکاري، د تروریزم پر وړاندې ګډه مبارزه، د نشه یي توکو قاچاق، د انسانانو قاچاق، د پیسو ناقانوني حوالې، د سپکو وسلو ناجایزه سوداګري، اقتصادي وده، ترانسپورټي همکاري او پر صنعتي ودې هم بحث وشو.

په اقتصادي برخه کې: په اقتصادي برخه کې باید غړي هېوادونه په خپلو منځونو کې تجارتي راکړې ورکړې زیاتې او د غړو هېوادونو ترمنځ مالیه کمه کړل شي. همدارنګه غړي هېوادونه په خپلو سیمو کې د هغو طبیعي حوادثو په هکله معلومات شریک کړي، چې د دوی ګاونډیان اغېزمنوي. د هېوادونو د مشرانو او مسوولینو ترمنځ د معلوماتو تبادله، څو په هېواد کې نړیوال تروریزم ته وده ورکړي او د دغو مسوولینو ترمنځ همغږي رامنځته کړي. د حوادثو د مدیریت په هکله له یو بل سره خپلې تجربې او معلومات شریکول او خپلمنځي ګډې پروژې پر کار اچول، څو په سیمه کې د اقتصادي ودې د زیاتوالي سبب شي.

د چاپېریال په ډګر کې همکاري: غړي هېوادونه به په ګډه سره د چاپېریال ساتنې په برخه کې نه یوازې دا چې پروګرامونه به جوړوي؛ بلکې پلې کوي به یې هم، په تېره بیا په سرحدي سیمو کې.

د تروریزم پر وړاندې ګډه مبارزه: غړي هېوادونه باید د خپلو ملي قانونو له مخې، د تروریزم د له منځه وړلو لپاره په خپلو کې همکاري وکړي او د سخت دریځو او بېلتون غوښتونکو عملونو مخنیوی به کوي.

د نشه یي توکو پر وړاندې ګډه مبارزه: غړي هېوادونه به له یو بل سره د نشه یي توکو د ختمولو، انساني قاچاق، د پیسو ناقانونه حوالې او د نورو زیان رسوونکو موادو پرخلاف اقدامات کوي. غړي هېوادونه باید د تمدنونو د جګړې پرخلاف له یو بل سره د تمدنونو ترمنځ خبرو اترو ته وده ورکړي.

سیاسي او نظامي: د تلپاتې ثبات او په نظامي- سیاسي ډګر کې خپلمنځي اعتماد پیاوړي کول.

**د غړو هېوادونو له مشرانو سره ناستو ته کتنه**

د شانګهای همکارۍ سازمان په اتلسمه ناسته کې د افغانستان په استازولۍ، د ملي یووالي حکومت اجرایه ریيس ډاکتر عبدالله عبدالله برخه درلوده. یادې ناستې چې دوې ورځې یې دوام وکړ، د حکومت اجرایه ریيس د دې ناستې تر څنګ، د سازمان د غړو هېوادونو له مشرانو سره هم ناستې درلودې او په یادو ناستو کې پر لاندې ذکر شویو موضوعاتو باندې بحث وشو:

- د سیمې له هېوادونو څخه د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د سیمه‌ییزې اجماع د رامنځته کولو غوښتنه: د افغان حکومت اجرایه ریيس عبدالله عبدالله چې په دغه غونډه کې یې د افغان دولت په استازیتوب ګډون کړی و، وویل چې د ترهګرۍ پر وړاندې د مبارزې لپاره یوې سیمه‌ییزې ستراتیژۍ او کړنلارې ته اړتیا ده، څو وکولای شو چې په ګډه د ترهګرۍ پر وړاندې مقابله وکړو. همدا اوس افغانستان له دې ترهګرۍ سره لاس او ګرېوان دی، نو له همدې امله د شانګهای د همکاریو سازمان سیمه‌ییزو هېوادونو هوساینه په افغان سولې او ثبات پورې تړلې ده. نو لازمه ده چې د سیمې د ګډو ستونزو د حل لپاره په ګډه د عادلانه سوله‌ییزې او باعزتې کړنلارې له مخې، د جګړې ختمولو ته هڅه او کار وکړو.
- له روسیې سره د دوو اړخیزو اړیکو پراختیا: د افغانستان د ملي یووالي حکومت اجرایه ریيس د روسیې له صدراعظم سره د دې غونډې په څنډه کې لیدلې دي. دغې لیدنې درې مهمې برخې لرلې: لومړی: د افغانستان او روسیې د دوو اړخیزو اړیکو پیاوړتیا؛ دویمه: د افغانستان د سولې پروسه؛ درېیمه: د نشه یي توکو پر وړاندې مبارزه.
- د سیمې له هېوادونو سره اړیکې: د دې تر څنګ، د دغه کنفرانس په څنډو کې ډاکټر عبدالله عبدالله د سیمې د ځینو هېوادونو له لومړیو وزیرانو سره هم ولیدل او د اړیکو پر نږدې کولو یې خبرې وکړې. د ازبکستان لومړی وزیر کابل ته راوبلل شو. له هند او ایران سره پر امنیتي او اقتصادي همکاریو خبرې وشوې او همدا راز له تاجکستان او قزاقستان سره هم د اړیکو پر رغولو خبرې وشوې.

**د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو رول په افغان سوله کې**

په تېرو اتلسو کلونو کې د بېلابېلو خواوو په ګډو همکاریو، د شانګهای همکارۍ سازمان په نړۍ کې د همکاریو داسې جامع او سیمه‌ییز سازمان ګرځېدلی، چې د پراخوالي او نفوس له لحاظه، د نړۍ په سطحه له ټولو سازمانونو لوی دی. د دغه سازمان د غړو هېوادونو عمومي اقتصادي حجم او نفوس په جلاجلا توګه د نړۍ ۲۰ سلنه او ۵۰ سلنه جوړوي. له ملګرو ملتونو او نورو نړیوالو او سیمه‌ییزو سازمانونو سره یې پراخې همکاریزې اړیکې ټینګې کړې دي او نړیواله اغېزه یې لاپسې پراخه کړې ده. د یاد سازمان ټول غړي هېوادونه د افغانستان په جګړه کې پر ټولو ښکېلو اړخونو نفوذ لري، نو له همدې امله په یاد سازمان کې ځینې شامل هېوادونه کولای شي چې د افغان سولې په پروسه کې مثبت رول ولوبوي. چین د خپل اقتصادي نفوذ د لرلو په اساس کولای شي، د سیمې پر هېوادونو [پاکستان] باندې فشار راوړي، څو هغه ډلې چې یو ډول نه یو ډول په افغان کشاله کې رول لري، د خبرو مېز ته کېنوي. په ټوله کې یاد سازمان دا توانایي لري چې په نړیواله سطحه امریکا (د افغان جګړې د پیل اصلي لورى) ته وواییي چې افغان کشاله د خبرو له لارې حل کېدلای شي او د خبرو له لارې په حل کې یې موږ هم همکاري کوو او که چېرې د جګړې له لارې حل غواړې؛ په هغه برخه کې موږ در سره همکاري نه کوو. نو که چېرې یاد هېوادونه په ریښتیا هم دا ډول وغواړي، امریکا دلته د ډېرې مودې لپاره نه شي پاتې کېدای.

**پایله**

د شانګهای همکارۍ سازمان د لومړیو وزیرانو ۱۸مه ناسته داسې مهال تر سره کېږي، چې د افغانستان د ولسمشریزو ټاکنو پایلې نه دي معلومې شوې او یو ځل بیا پر سیمه‌ییزه او نړیواله کچه د سولې د خبرو د پیل غوښتنه شوې ده.

اروپایي ټولنې، په مسکو کې د افغان سولې په اړه تر سره شوې څلور اړخیزه ناسته او په نږدې راتلونکې کې د چین په کوربتوب د بین الافغاني ناستې تر سره کېدل، هغه څه دي چې ورسره یو ځل بیا په افغانستان کې د تل پاتې سولې راتلو لپاره هېلې راټوکېدلې دي.

یاد سازمان په افغان کشاله کې پر ښکېلو لوریو باندې نفوذ لري، امید دی چې دوی په دې برخه کې له خپل نفوذ څخه په مثبتې ګټې اخیستو سره، پر افغانانو باندې د دې تپل شوې جګړې د ختمولو هڅه وکړي او د افغان سولې لپاره چې کومې هڅې اوس روانې دي، د دوی په همکارۍ دا تېزې کړل شي، څو د دوی په مثبت رول ادا کولو سره وکولای شو، چې د افغان سولې د راتلو او جګړې د ختم لپاره سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کړو.

همدارنګه افغان سیاستوالو او د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته پکار ده، چې د ولسمشریزو ټاکنو پایلې هم ژر تر ژره اعلان او وړونکی ټیم دې د نوي حکومت د تشکیل لپاره کوټلي ګامونه واخلي او بایلونکي ټاکنیز ټیمونه دې له ګټونکي ټیم سره د نوي حکومت په تشکیل او د افغان حکومت له لوري د سولې د پروسې په پیل کې خپله هر اړخیزه همکاري وکړي؛ څو په دې سره وکولای شو چې خپل نړیوال موقف قوي کړو او په افغانستان کې یوې تل پاتې سولې ته ورسېږو.

## بهرنیو چارو وزارت: د خبرو تر پیل مخکې سولې ته د طالبانو ژمنتیا او اوربند اړین دي

بهرنیو چارو وزارت ویلي، وروستیو تجربو ښودلې چې له افغان حکومت سره نبغ په نېغه خبرې اوږدمهاله سولې ته لار برابرولی شي.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال میرویس ناب دغه څرګندونې د اقتصادي همکاریو سازمان د وزیرانو هغې غونډې ته کړې، چې په ترکیه کې جوړه شوې وه.

هغه دغه راز پر خپل ټویټر لیکلي، په دې ناسته کې یې د افغانستان د اقتصادي لاسته راوړنو او د حکومت د اقتصادي لومړیتوبونو په اړه رڼا اچولې ده.

ناب زیاته کړې، په دې وروستیو کې په افغانستان کې ډېرې لویې اقتصادي پروژې پلې شوې او نورې هم د پیلېدو په حال کې دي.

د نوموړي په خبره، تر ټولو ښه بېلګه د ټاپي پروژه، د برېښنا کاسا زر پروژه، د لاجوردو لارې پروژه او د ځینو نورو داسې پروژو پیل دی، چې د هېواد په اقتصادي پرمختګ کې یې مهم رول لوبولی دی.



د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویلي، اقتصادي برياوې او لاسته راوړنې نبغ په نېغه له سولې سره تړاو لري .

هغه زیاته کړې، افغانستان په خپله خاوره کې له سیمه ییزو او نړیوالو ترهګرو سره د ټولې سیمې او نړۍ په نیابت جګړه کوي .

د ناب په خبره، دا د ټولو ګډ مسوولیت دی چې په دې مبارزه کې افغانستان ته اوږه ورکړي.

نوموړي زیاته کړې، وروستیو تجربو ښودلې چې یوازې له افغان حکومت سره نبغ په نېغه خبرې اتړې یوې اوږدمهاله سولې ته لاره برابرولی شي؛ خو زیاته کړې یې ده چې د سولې تر خبرو مخکې باید اوربند وشي او طالبان د سولې لپاره خپله ژمنتیا وښیي.

# په امريکا کې ۳۸ ميليونه کسان له بېوزلۍ ځورېږي

لیکنه: الجزیره -ژباړه احمد الهام

په امريکا کې ميليونونه کسان له فقر څخه ځورېږي. د الجزيرې د راپور له مخې، په داسې حال کې چې امريکا په نړۍ کې د شتمنۍ او په يوه زياته پيمانه د ناخالص توليد د درلودلو له کبله لاپې وهي، خو لا هم په دغه هېواد کې ميليونونه کسان له غريبۍ او وزګارتيا څخه ځورېږي.

د الجزيرې خبري شبکې انټرنېټي برخې «۳۸ميليونه غريب خلک» په نوم يو مطلب خپور کړی دی. په مطلب کې راځي، نن سبا د نړۍ په کچه امريکا د علم، پرمختګ، شتمنۍ او توليداتو په برخه کې په لومړي مقام کې ځای لري. سږ کال د دغه هېواد توليدات له ۲۱ ميلياردو ډالرو واوښتل. د امريکا د هر وزارت کلنۍ بوديجه د منځنۍ کچې د هېوادونو له بوديجې څخه زياته ده. د بېلګې په توګه، سږ کال د امريکا د دفاع وزارت لپاره اته سوه ميلیارده ډالره بودجه ټاکل شوې وه. په دې مانا چې يوازې د امريکا د دفاع وزارت کلنۍ بودجه د لسو هېوادونو لکه روسيې، چين، هند، جاپان، انګلستان، فرانسې او نورو هېوادونو د کلنۍ دفاعي بودجې څخه ډېره ده. په امريکا کې د سړي سرکلني عايد کچه ۵۵ زره امريکايي ډالره ده، نو له همدې کبله امريکا د هغو هېوادونو په کتار کې راځي، چې وګړي يې د نورو هېوادونو په پرتله د سړي سر ډېر کلنی عايد لري. خو له دې سره سره بيا هم ميليونونه امريکايي وګړي په غربت کې ژوند کوي.

دکرېډېسټ سوېس بانک په وروستي راپور کې د نړۍ د ميليونرانو شمېر او د شتمنۍ وېش ارزولی دی. په دې بانک پورې تړلې څېړنيزه موسسه خپل کلنی راپور له نړدې لسو کلونو راهيسې خپروي، چې نړۍ کې د مختلفو هېوادونو د شتمنۍ د وېش او ودې ارزوونکې مرجع ده. په سږني راپور کې وايي چې امريکا د ۱۸ ميليون ميليونرانو په لرلو سره بيا هم د ميليونرانو له پلوه په نړۍ کې لومړی ځای لري. د نړۍ نږدې ۴۰ سلنه ميليونران او څلوېښت سلنه هغه کسان چې د نړۍ تر ۹۹ سلنه خلکو ډېر شتمن دي، په امريکا کې اوسېږي. د دې رپوټ له مخې، په وروستيو کلونو کې په چين کې شتمني او د شتمنو شمېر ډېر شوی دی؛ په ۲۰۱۰ ز کال کې د چينايي ميليونرانو شمېر ۳۸ زره و، خو اوس نږدې څلور نيم ميليون کسانو ته رسېدلی دی. چين سږ کال د هغو کسانو له پلوه چې له تېر کال راهيسې ميليونران شوي، له امريکا مخکې شوی دی. د هغو چينايانو شمېر چې د نړۍ لس سلنه تر ټولو شتمنو کسانو کې راځي، اوس نږدې سل ميليونو کسانو ته رسېږي؛ خو په امريکا کې دا شمېر ۹۹ ميليون کسان دي. کرېډېټ سوېس زياتوي، نړۍ کې ټوله شتمني له تېر کال تر سږ کال ۹۱۰۰ ميليارد ډالره زياته شوې ده او اوس ټوله ۳۶۰ زره او شپږ سوو ميلياردو ډالرو ته رسېدلې ده.

د امريکا د معيارونو له مخې، فقير داسې تعريفېږي: که د يوې څلور کسيزې کورنۍ کلنی عايد له ۲۵ زرو او اوو سوو ډالرو لږ وي، د درې کسيزې کورنۍ کلنی عايد شل زره ډالره او د دوه کسيزې کورنۍ کلنی عايد له ۱۶ زرو دوو سوو څلوېښتو امريکايي ډالرو څخه لږ وي، نو دوی فقير ګڼل کېږي. دغه راز که د يوه تن کلنی عايد له ۱۲ زرو او اووه اتيا ډالرو څه کم وي، ده ته هم فقير ويل کېږي.

همدا اوس ۳۸ ميليونه امريکايي وګړي فقير دي. څه کم ۱۲ميليونه امريکايي ماشومان يانې له شپږو څخه يو تن امريکايي ماشوم د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي. ۱۴ ميليونو او دريو سوو زرو کسانو ته دولتي کوپن ورکول کېږي.

تېر کال په امريکا کې پنځو لکه ۵۳ زرو کسانو سرپناه نه درلوده، د بې سرپرسته نارينه‌وو شمېر اويا سلنې ته لوړ شو چې ۴۹ سلنه يې سپين پوستي وو.

په ۲۰۱۸ ز کال کې ۳۰ ميليونو او څلورو لکو امريکايي وګړو روغتيايي بيمه نه درلوده. هېڅ امريکايي وګړی د پور د نه ورکولو له امله نه شي بندي کېدای. د فدرال قوانينو له مخې، بانک، روغتون او يا کس له دې کبله چې پوروړي پر خپل وخت پور نه دی پرې کړی، نه شي کولی چې بندي يې کړي او يا کومه بله سزا ورکړي، خو د مجازاتو بڼه يې داسې ده:

- که پوروړی دې دندې څښتن وي، نو په مستقيم ډول تري پيسې کسر کېدای شي.

- تر هغه وخت پورې چې پخوانی پور يې نه دی پرېکړی، نه شي کولای له کوم بانک يا کس څخه پور واخلي او يا هم د توکو د پېرلو لپاره له کرېډېټ کارت څخه ګټه واخلي.

- هېڅ امريکايي وګړی عامو خلکو ته د پور د نه ورکولو له کبله نه شي زنداني کېدای، خو په دې برخه کې د فدرالي دولت ماليات مستثنی دي هغه هم په ډېرو لږ مواردو کې.

يوازې ۲۳ زره ۱۰۳ شرکتونه تېر کال په امريکا کې له ماتې سره مخ شوي دي. له دې سره په څنګ کې ۷۵۵۰۰۰ هغو کسانو چې خپل کاروبارونه يې درلودل، خپلې ماتې عملاً اعلان کړې دي. دغه ماتې په دې مانا دي چې دغو کسانو ته نورې قرضې نه ورکول کېږي او د اوسېدو له کور څخه پرته له شخص څخه د هغه ټولې شتمنۍ او جايدادونه اخيستل کېږي.

لوېديځه ويرجينيا د امريکا تر ټولو غريب ايالت دی. په دغه ايالت کې په اوسط ډول د سړي سرکلنی عايد۴۳ زرو ۴۶۹ ډالرو ته رسېږي. په دغه ايالت کې لږ تر لږه يو ميليون او نهه سوه زره کسان ژوند کوي.

مي سي سي پي د امريکا دويم فقير ايالت دی. په دغه ايالت کې د سړي سرکلنی عايد ۴۳ زره ۵۲۰ ډالره دی. ارکانزاس د امريکا دريم فقير ايالت دی. په دغه ايالت کې د سړي سر کلنی عايد ۴۵ زره ۸۶۰ امريکايي ډالره دی. په دغه ايالت کې درې ميليون کسان ژوند کوي.

# د رايو د بياشمېرنې بهير؛

## دريو ټاکنيزو ډلو د رايو د بياشمېرنې له بهير سره پرېکون اعلان کړی



سره له دې چې د ټاکنو کمېسيون له څو پر له پسې وخت تلفۍ وروسته، د رايو بياشمېرنه او تفتيش پيل کړی، خو ټاکنيز ټيمونه د کمېسيون دغه کار غير قانوني بولي. دوی وايي، د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد په لومړي ګام کې د ټولو رايو سقف معلوم کړي او تر هغه وروسته دې په قانوني توګه د ځينو رايو تفتيش پيل کړي. خو د ټاکنو خپلواک کمېسيون تېره ورځ په څلور دېرشو ولايتونو کې تر اته زره د ډېرو محلونو د رايو بياشمېرنه پيل کړې ده.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون ان تېره اونۍ د دوشنبې په ورځ ويلي وو، چې د ځينو محلونو رايې به بيا شمېري، خو دغه پروسه ايله پرون پيل شوه. د ټاکنو خپلواک کمېسيون په اعلاميه کې راغلي چې د ټاکنيزو ډلو او نړيوالو ناظرينو په حضور کې په ۳۴ ولايتونو کې د رايو بياشمېرنه پيل شوې ده او په دې کې به د ځينو محلونو رايې تفتيش شي. د ټاکنو خپلواک کمېسيون د دارالانشا رييس حبيب الرحمن ننګ وايي، چې په دې پروسه کې به د ۸۲۵۵ محلونو د رايو بياشمېرنه کېږي. ننګ وايي: ((د کمېسيون د غړو د پرېکړې پر بنسټ، د ۸۲۵۵ ټاکنيزو محلونو رايې په ۳۴ ولايتونو کې بيا شمېرل کېږي)).

د ده په خبره، د رايو د بياشمېرنې بهير د لوايحو، کړنلارو او قوانينو په رڼا کې پيل شوی او موخه يې هم د شفافيت تامين او د خلکو رايو ته درناوی دی. نوموړي بيا هم ټينګار کړی چې لومړنۍ پايلې به په ټاکلې نېټه اعلانېږي او دوی په پوره چټکتيا کار کوي، څو له مهالوېش سره سم مخ ته لاړ شي. ننګ د ټاکنيزې پروسې له ټولو دخيلو اړخونو په تېره له نوماندانو غوښتي، چې په دې پروسه کې پوره همکاري وکړي.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون اوس په ۳۴ ولايتونو کې د ځينو مرکزونو د رايو بياشمېرنې پروسه پيل کړې ده. د کمېسيون په اعلاميه کې راغلي: ((د ټاکنو خپلواک کمېسيون د رايو د بياشمېرنې او تفتيش لپاره د تخنيکي موادو بسته بندي، د څارونکو او کتونکو په حضور کې پيل کړې ده)).

بلخوا د ټاکنو کمېسيون دغه پرېکړه د ټاکنيزو ډلو له غبرګون سره مخ شوې ده او تر پرونه دريو ټاکنيزو ډلو له دې بهير سره پرېکون اعلان کړی دی. دغه ټاکنيزې ډلې په اوسنيو شرايطو کې د رايو بياشمېرنه غير قانوني بولي او خپل ناظرين يې له دې بهير وربللي دي.

د ثبات او همپالنې ټاکنيزه ډله وايي، د باطلو رايو تر مشخصولو او د رايو د سقف تر معلومولو مخکې، د هر محل د رايو تصفيه کولو بهير پيل شوی چې دا يو غير قانوني اقدام دی او د ټاکنو خپلواک کمېسيون بايد قانون ماتونې ته د پای ټکی کېږدي.

د دغه ټاکنيز ټيم په اعلاميه کې راغلي: ((کمېسيون دا پرېکړه داسې مهال کړې چې تکراري رايې، هغه رايې چې د ټاکنو د پيل او پای تر وخت مخکې او وروسته کارول شوې او همدا راز تقلبي رايې تر اوسه نه دي تصفيه شوې. د دې تر څنګ، ۲۴۳۲ داسې محلونه هم شته چې تر اوسه يې هېڅوک د موجوديت په اړه معلومات نه لري، هېڅ ډول بايومټريک معلومات يې په اړه نشته، خو د کمېسيون د تازه پرېکړې په اساس بيا شمېرل کېږي)).

د ثبات او همپالنې ټيم له همدې امله د رايو د بياشمېرنې له بهير سره پرېکون اعلان کړی او له کمېسيون غواړي چې تر هر څه وړاندې دې ياد شوي موارد روښانه کړي او بيا دې د رايو بياشمېرنې او تفتيش ته مخه کړي.

د نوماندانو شورا هم د ټاکنو خپلواک کمېسيون دغه کار غير قانوني بللی دی. د رحمت الله نبيل او ګلبدين حکمتيار په مشرۍ ټاکنيزو ډلو هم د ثبات او همپالنې ډلې په څېر د رايو د بياشمېرنې له بهير سره پرېکون کړی دی.

بلخوا د ولسمشر غني په مشرۍ دولت ساز ټيم ويلي چې د ټاکنو خپلواک کمېسيون له اقداماتو ملاتړ کوي. دغه ټاکنيزې ډلې په تازه اعلاميه کې ويلي چې ټاکنيزې ډلې دې په غير قانوني توګه د ثبوت له موجوديت پرته څرګندونې نه کوي او قوانينو ته دې درناوی وکړي. دوی له ټاکنيزو ډلو غوښتي چې د کمېسيون پرېکړو ته درناوی ولري.

# مايک پامپيو: په ناټو سازمان کې بايد پراخ او جدي بدلونونه راوستل شي




د امريکا د بهرنيو چارو وزير ويلي چې په ناټو سازمان کې بايد پراخ بدلونونه راوستل شي.

د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پامپيو چې د برلين دېوال د نړېدو په ۳۰مه کليزه کې يې ګډون کړی و، خبرداری ورکړی چې په نړيواله کچه نويو ګواښونو ته په کتو، په ناټو سازمان کې بايد جدي بدلونونه راوستل شي.

هغه ويلي چې چين او روسيه د ناټو لپاره جدي ګواښونه دي، نو اړينه ده چې په دغه سازمان کې د بدلونونو تر څنګ، له دغو ګواښونو سره د مبارزې پر لارو چارو غور وشي.

هغه دغه راز زياته کړې: «له اويا کلونو وروسته ناټو په جدي توګه بدلونونو او پرمختګونو ته اړتيا لري. اړتيا ده چې د نن ورځې له واقعيتونو ځان خبر کړو، غړي هېوادونه بايد د ناټو سازمان د پياوړتيا لپاره سرچينې نورې هم پراخې کړې، که نه، ناټو به پر يوه بې ګټې سازمان بدله شي».

په ورته وخت کې د ناټو عمومي منشي ينس سټولټنبرګ هم په ياده غونډه کې د ګډون پر مهال ويلي، چې چين او روسيه په اوس وخت کې هڅه کوي چې د ناټو لپاره ستونزې رامنځته کړي. هغه پر خپلو متحدينو او د ناټو پر نورو غړو هېوادونو هم غږ کړی چې په نړيواله کچه شته ګواښونو ته تياری ونيسي.

سټولټنبرګ ويلي: «د چين او روسيې روانو هڅو او د دفاعي وړتياوو لوړېدو ته په کتو، د ناټو غړي هېوادونه بايد خپل يووالی لا نور هم پياوړی کړي او په ګډه د روانو ګواښونو د مبارزې لپاره تياری ولري».

په ورته وخت کې د امريکا د بهرنيو چارو وزير دغه راز پر روسيې تور لګولی، چې هڅه کوي خپل سياسي مخالفين وځپي. د هغه په خبره، روسيه په کور دننه او بهر کې د خپلو مخالفينو د ځپلو هڅه کوي چې دغه څه د نوموړي په خبره، له ټولو نړيوالو موازينو او نورمونو سره په ټکر دي.

په ناټو سازمان کې د پراخو بدلونونو د راوستو په تړاو د امريکا دغه څرګندونې داسې مهال دي، چې تر دې وړاندې د فرانسې ولسمشر ايمانويل مکرون هم ويلي وو چې ناټو سازمان پر «مغزي مرګ» اخته شوې، چې په خبره يې، په دغه سازمان کې د امريکا او اروپايي متحدينو ترمنځ هېڅ ډول همغږي نشته.

## د کتــاب خبــرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق


◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

**اووم څپرکی**

**بد نصیب بلوچستان**




**د طالبانو پناه ځای**

سخته نه وه معلومه کړو چې افغان طالبان د پاکستان د سویل لوېدیځ ولایت په مرکز، کوېټه کې مېشت دي. په زرګونو افغان طالبان د کوېټې د پښتون اباد په چټلو سړکونو، تنګو کوڅو او خټینو کورونو کې اوسېږي. د ۲۰۰۳ز کال په مني کې زه له خپل ملګري احمدرشید سره کوېټې ښار ته لاړم. له رشید سره مې د نوموړي د نوې څېړنې په اړه مرسته کوله. هغه غوښتل، د طالبانو د بیا راپورته کېدو او تاوتریخوالي د پیل په اړه څېړنه وکړي.

ښایي بهرنیانو ته به د پښتون اباد خلک متفاوت ښکارېدل، خو په لویو لنګوټو کې طالبان له ورایه پېژندل کېدل. ځایي خلکو د هغوی د لنګوټو د تړلو پر طرز، د پښتو ژبې پر لهجه، اوږدو ږیرو او وېښتانو او د هغوی د تګ پر ډول پېژندل او له ځایي خلکو سره یې پر همدې نښو توپیر کېده.

د څلورو ساعتونو په د ننه کې موږ له ډېرو طالبانو سره مخ شوو. هغوی د ماسپښین له لمانځه وروسته کوڅو ته راښکته شول. د هغوی له ډلې یې ډېر داسې هم وو چې له مجبوریته یې د یوه دوکان په اندازه ځای کې ژوند کاوه، څکه چې په نږدې کورونو، مدرسو او مسجدونو کې هم د پښې ایښودلو ځای نه و. طالبانو به د کوڅو په سماوارونو او رستورانتونو کې چای او ډوډۍ خوړل، شیریخ به یې نوش جان کاوه او له یو بل سره به یې مجلس کاوه. ځایي خلکو پر یوه پارک د القاعدې نوم ایښی و، څکه هلته ټول طالبان ورتلل، د غېږې نیولو او خوسي لوبي به یې کولې.

یادو طالبانو ته په بلوچستان کې د جمعیت علماء اسلام په ملاتړ خوندي ځایونه ورکړل شوي وو، څکه دا ګوند همدا مهال هلته واکمن و. پوځ هم د پردې ترشا له طالبانو سره د ISI پر لاس همکاري کولې او د هغوی ملاتړ یې کاوه.

له کومو طالبانو سره مو چې خبرې وکړې، هغوی د افغانستان د نوي حکومت له چارواکو او د هغوی له امریکایي ملاتړ څخه شکایت کاوه چې ګني هغوی یې په تنګ کړي وو. د هغوی پاملرنه ټوله پر دې وه چې په افغانستان کې واکمن حکومت له واکه وغورځوي، امریکایان وشړي او بېرته طالبان قدرت ته ورسېږي. د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر او د جمعیت علماء اسلام ګوند ولایتي مشـر، حافظ حسین شارودي راته وویل: ((د حامد کرزي د واک دوره نوره ختمه ده. یوازې طالبان کولای شي چې په افغانستان کې اصلي حکومت جوړ کړي.))

**د طالبانو بیا راپورته کېدل؛**

هماغه منی، کوېټه ښار د پاکستاني پوځ د دوه مخې لوبې د پیل دریځ شو. پالیسي دا وه چې د پښتنو له سیمو به د لوېدیځ پر ضد جګړه پیلېږي. ولسمشـر پروېز مشـرف په ډېر مهارت سره لوېدیځوالو پالیسي جوړوونکو ته قناعت ورکړ چې د ترهګرۍ پر ضد جګړه کې د هغه ملاتړ د پاکستان په کچه مرکزي حیثیت لاره. په عینې وخت کې اسلاماباد د پښتنو په سرحدي سیمو کې د طالبانو پر ملاتړ او پیاوړتیا لاس پورې کړی و. له دې سره په افغانستان کې د طالبانو د بیا ځواکمنتیا فرصت برابر شو.

کله چې د ۲۰۰۳ز کال په مارچ کې واشنګټن پر عراق یرغل وکړ، دا مهال کوېټه ښار د اکثرو طالب مشـرانو کوربه و چې ښایي ملا محمدعمر به هم د همدې طالبانو په ډله کې و. وروسته له هغه چې د امریکا متحده ایالتونو پاملرنه صدام حسین ته واوښته، پر اسلاماباد فشارونه کم شول. پاکستان یو ځل بیا له افغانستان څخه د هند پر وړاندې د خپلې پراخې جګړې د ډګر په توګه کار اخیستل پیل کړل. پاکستان یو ځل بیا له سخت دریځو افغانان ملاتړ پیل کړ.

د ۲۰۰۳ز کال په دوبي کې د افغانستان په سویل کې په شدت بریدونه پیل شول چې په پایله کې یې ۴۰۰ ملکي افغانانو، سرتېرو او د مرستندویه بنسټونو کارکوونکو ته مرګ ژوبله واوښته. کله چې لوېدیځوالو مشـرانو مشـرف ستایه، کرزي د اسلاماباد د دوه مخې لوبې خبر ورکړ. د ۲۰۰۳ز کال په اکتوبر کې کرزي د امریکا د بهرنیو چارو وزارت له مرستیال ریچارډ ارمیتاژ سره له مجلس وروسته وویل: ((زموږ د ډاډ لپاره باید په افغانستان کې هر ډول ترهګریز بریدونه پای ته ورسېږي.)) ښایي پاکستان به د امریکا له وېرې د ارمیتاژ د لیدنې پر مهال په سویلي وزیرستان کې د کمانډو ځواکونو عملیات کړي وي. هغه مهال چارواکو وویل چې د عملیاتو پر مهال د القاعدې مالي ملاتړی احمد سید خدر وژل شوی و. دا ډول چاپې او عملیات د پاکستان له لوري یوازې د امریکا د خوشالولو او د هغوی د نیوکو د مخنیوي لپاره ترسره کېدل. د بلوچستان او د افغانستان د سویلي سیمو د اوسېدونکو تر منځ ټولنیزو اړیکو د طالبانو په بیا راپورته کېدو کې مرسته وکړه. که څه هم د دواړو هېوادونو د سېسټمونو د جلا کېدو یوه پېړۍ وزي بیا هم د افغانستان د سویلي سیمو او د پاکستان د سویل لوېدیځ ولایت بلوچستان د پښتنو دودونه سره ورته دي. په بلوچستان کې مېشت لوی قومونه، کاکړ، ترین او د غلجیو او درانیو قومونه د سویلي افغانستان د کندهار، هلمند، زابل، ارزګان او فراه ولایتونو له مېشتو قومونو سره اړیکې لري. په ۱۹۸۰ز لسیزه کې پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال کوېټې ته د افغان کډوالو له راتګ سره دا اړیکې لا ټینګې او پراخه شوې.

**دوام لري...**

# احمدشاه ابدالي د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي



احمدشــاه ابــدالي د لــوړو زده کــړو خصــوصي موسســې پــه ۱۳۹۲ لمریز کال کې د هېواد د لوړو زده کړو وزارت پــه منظــورۍ، پــه خوســت ولایــت کــې پــر فعالیت پیل وکړ. دغه موسسه لـه هماغــه لومــړي سره تــر دې دمــه پــورې یــوازې یــو پوهنځــی (طــب) لــري، خــو تــر څنګ یې د دې موسسې په چوکاټ د منځنیــو طبــي زده کــړو یــو انســټیټوت هــم فعــال دی، چــې پــه اوو څانګــو کــې پــه منځنــۍ کچــه محصلیــن روزي. د دې موســسې مســوول ډاکټـر نوراللـه قـاضي زاده وایــي، د منځنیــو زده کــړو پــه طبــي انسټیټیوت کې د عــالي نرســنګ، عــالي قابلګــۍ، انېســتېزۍ، د غاښــونو برخــه، راډیولــوژي، فارمــسي، طبــي ټکنالــوژي او لابراتــوار څانګــې لــري چــې محصلیــن پکــې زده کــړې کــوي.

ښــاغلی قــاضي زاده وایــي، یــوازې پــه طب پوهنځــي کــې د ۱۱۰۰ پــه شــاوخوا کــې محصلیــن لــري چــې نارینــه او ښــځینه دواړه پکــې شــامل دي. دغــه راز د منځنیــو طبــي زده کــړو پــه انســټیټیوت کــې بیــا د ۳۷۰ پــه شــاوخوا کــې محصلیــن زدکــړې کــوي، چــې لــه ډلــې یــې اویــا ســلنه ښــځینه او پاتــې نارینــه محصلیــن دي. دی وایــي، د ښــځینه محصلینــو شــمېر یــې ځکــه زیــات دی، چــې موسســه یــې یوازینــۍ هغــه ده چــې پــه خوســت ولایــت کــې یــوازې پــه طبــي برخــه کــې خدمتونــه وړانــدې کــوي او تــر ډېــره داســې برخــې پکــې دي چــې د ښــځینه محصلینــو علاقــه ور سره زیاتــه ده. نــو لــه همــدې کبلــه یــو زیــات شــمېر نجونــو د دوی پــه موسســه کــې زده کــړو تــه زړه ښــه کــړی دی. نوموړی وایــي، تــر اوســه یــې پــه دوو دورو کــې د ۵۰۰ پــه شــاوخوا کــې محصلیــن فــارغ کــړي، چــې ډېــری یــې خپلــه د خوســت ولایــت پــه روغتونونــو او نــورو خصــوصي طبــي برخــو کــې پــر دنــدو بوخــت دي.

د دې موسســې د طــب پــه پوهنځــي کــې د تدریــس چــارې د ۳۳ اســتادانو لــه خــوا مــخ تــه وړل کېــږي. ډاکټــر نورالله قــاضي زاده وایــي، ډېــری اســتادان یــې د ماســټرۍ تــر کچــې پــورې لــوړې زده کــړې لــري او پــه خپــل مســلک کــې یــې تخصــص اخیســتی دی. دغــه راز د منځنیــو زده کــړو پــه انســټیټیوت کــې چــې کومــې څانګــې فعالــې لــري، پــه هغــو کــې یــې هــم د هماغــو څانګــو اړونــد متخصــص ډاکټــران او اســتادان پــر دنــدو ګومــارلي، څــو وکولــی شي پــه ســم ډول د تدریــس چــارې مــخ تــه یــوسي او پــه ټولــه کــې پــر کار پــوه او متخصــص کســان ټولنــې تــه د خدمــت پــه موخــه وړانــدې کــړي. دی وایــي، دا چــې د ښــځینه او نارینــه محصلینــو ټولګــي یــې بېــل دي، نــو د ښــځینه محصلینــو لپــاره یــې ښــځینه او د نارینــه محصلینــو لپــاره یــې نارینــه اســتادان پــر دنــدو ګومــارلي دي.

ښــاغلی قــاضي زاده وایــي، کــه څــه هــم چــې خوســت یــو لــرې پــروت او سرحــدي ولایــت دی او پــه لــرې پرتــو ولایتونــو کــې د ځینــو دودونــو او پښــتني کلتــور لــه مخــې خلــک خپلــو خوینــدو مینــدو تــه د لا ډېــرو لــوړو زده کــړو اجــازه نــه ورکــوي، خــو پــه خــبره یــې، د پخــوا پــه پرتلــه اوس دغــه ســتونزه پــه خوســت ولایــت کــې تــر یــوه بریــده پــورې هــواره شــوې ده. دی وایــي، نــه یــوازې د خوســت ولایــت لــه لــرې پرتــو ولســوالیو، بلکــې د لویــې پکتیــا لــه ډېــرو ولســوالیو څخــه ښــځینه محصلینــې لــري. د ده پــه خــبره، دا چــې دوی د ښــځینه او نارینــه محصلینــو لپــاره بېــل بېــل ټولګــي لــري، نــو کورنــۍ کولــی شي پــه ډاډه زړه خپلــې لونــې د زده کــړو لپــاره ور ولېــږي.

د احمدشــاه ابــدالي د لــوړو زده کــړو موســسې مســوول وایــي، دا چــې د لویــې پکتیــا پــه کچــه پــه لــرو پرتــو ولســوالیو کــې د مرکــز یــا نــورو ولایتونــو ډاکټــران کار کولــو تــه زړه نــه ښــه کــوي، هغــه کــه نارینــه وي او یــا ښــځینه، نــو هغــه محصلیــن چــې تــر اوســه پــورې دوی پــه دوو دورو کــې فــارغ کــړي، ټــول یــې د خوســت، پکتیــا او پکتیــکا ولایتونــو پــه مرکــز او ولســوالیو کــې پــه دولتــي او خصــوصي روغتونونــو او کلینیکونــو کــې پــر دنــدو بوخــت دي. دی وایــي، تــر اوســه هــم د دغــو ولایتونــو اوســېدونکي د ښــځینه ډاکټرانــو یــا قابلــو د نشــتون لــه ســتونزې سره مــخ دي چــې پــه خــبره یــې، د دوی د محصلینــو پــه فارغېــدو سره بــه دغــه ســتونزه څکــه تــر یــوې کچــې پــورې را ټیټــه شي، چــې محصلیــن یــې خپلــه د اړونــدو ولایتونــو دي او پــه پــوره زړورتیــا بــه خپلــو خلکــو تــه پــه هــره لــرې پرتــه ولســوالۍ کــې چــې وي، خدمــت وکــړي.

دا چــې احمدشــاه ابــدالي یوازینــۍ موسســه ده چــې د زون پــه کچــه د طــب پوهنځــی لــري، نــو د لویــې پکتیــا پــه کچــه پــه ټــول زون کــې لــه فعالــو پوهنتونونــو سره ښــې اړیکــې لــري، خــو ښــاغلي قــاضي زاده لــه دې پوهنتونونــو یــا نــورو نړیوالــو پوهنتونونــو سره د کومــې علمــي هوکــړې د لرلــو یادونــه ونــه کــړه، خــو وایــي چــې طــب پوهنځــی یــې د روغتیــا لــه نړیــوال ســازمان سره راجســتر دی.

احمدشــاه ابدالي د لوړو زده کړو موسســه د خپلــو محصلینــو لپــاره یــو کتابتــون لــري، چــې د مســوول پــه خــبره یــې، د ۱۵۰۰ پــه شــاوخوا کــې طبــي کتابونــه پکــې دي او تــر څنــګ یــې د محصلینــو او اســتادانو لپاره کمپیوټر لــب هــم برابــر کــړی، چــې پــر انټرنېــټ ســمبال دی. د دې موســسې مســوول وایــي، محصلیــن او اســتادان یــې کولــی شي لــه یــاد کتابتــون او کمپیوټــر لــب څخــه هــر وخــت چــې وغــواړي، ګټــه واخلــي. ښــاغلی قــاضي زاده وایــي، د نارینــه او ښــځینه محصلینــو لپــاره یــې بېلابېــل جوماتونــه، کانټیــن، جمنازیــوم، د مطالعــې ځــای او نــور هغــه امکانــات برابــر کــړي، چــې یــو پوهنتــون یــې بایــد ولــري.

قــاضي زاده وایــي، پــه طب پوهنځــي کــې د ورځــې دوه وختــه تدریــس کېــږي، خــو د منځنیــو طبــي زده کــړو پــه انســټیټیوت کــې بیــا د ورځــې پــه دریــو وختونــو کــې محصلیــن د زده کــړو لپــاره ورغــواړي. دی وایــي، پــه ټولــه کــې د محصلینــو لپــاره شــل ســلنه تخفیــف لــري، خــو هغــه محصلیــن چــې اقتصــادي ســتونزې ولــري، هغــوی تــه یــې ځانګــړی تخفیــف پــه پــام کــې نیولــی دی. د نوموړي پــه خــبره، داســې محصلیــن هــم لــري چــې ان پــه وړیــا ډول د دوی پــه موسســه کــې لــوړې زده کــړې کــوي.

ډېــری خصــوصي پوهنتونونــه محصلینــو تــه د تحصیلــي اســنادونو پــه ورکــړه کــې ځنډ کــوي او محصلیــن سرګردانــه پــه خپلــو اســنادونو پســې ګرځــي، خــو د احمدشاه ابدالي د لــوړو زده کــړو موســسې مســوول وایــي، دا چــې دوی یــوازې طب پوهنځــی لــري او لــه محصلینــو څخــه یــې تــر فراغــت وروســته د عامــې روغتیــا وزارت لــه خــوا ازموینــه اخیســتل کېــږي، نــو کــه دوی پــر وخــت خپلــو محصلینــو تــه د فراغــت ســندونه ورنــه کــړي، پــه یــاده ازموینــه کــې ګــډون نــه شي کولــی. دی وایــي، مخکــې لــه دې چــې د تخصــصي ازموینــې نېټــه اعــلان شي، دوی خپلــو فارغــو محصلینــو تــه تاییــد شــوي تحصیلــي اســنادونه برابــروي او محصلیــن یــې پــه یــاده ازموینــه کــې برخــه اخلــي، چــې لــوړه ســلنه یــې بریــالي شــوي هــم دي.

د دې موســسې اداره وایــي، دا چــې ولســمشر پــه خصــوصي پوهنتونونــو کــې د هــر ډول نویــو تاسیســاتو مخــه نیولــې ده، خــو کــه دغــه څــه تــه دویــم ځــلي اجــازه ورکــړي، دوی بــه د پکتیــا او پکتیــکا ولایتونــو پــه کچــه هــم خپلــې څانګــې ولــري، څــو وکــړای شي خلکــو تــه لا ډېــر خدامــات وړانــدې کــړي. قــاضي زاده وایــي، دا چــې طــب پوهنځــی دواړو برخــو یــانې نظــري او عملــي زده کــړو تــه اړتیــا لــري، نــو دوی د خپــل پوهنځــي لپــاره ځانګــړی خصــوصي روغتــون لــري، چــې محصلیــن کولــی شي د نظــري زده کــړو تــر څنــګ پــه یــاد روغتــون کــې عملــي زده کــړې هــم وکــړي. نومــوړی وایــي، د دې تــر څنــګ یــې د خوســت لــه ولایتــي روغتــون سره د هوکــړې لــه مخــې خپــل محصلیــن هلتــه هــم د عملــي زده کــړو لپــاره ور اســتوي.

د احمدشــاه ابــدالي د لــوړو زده کــړو موســسې اداره وایــي، یوازینــۍ ســتونزه یــې دا ده چــې پــه خوســت کــې بیــا د زون پــه کچــه یــوازې پــه خصــوصي برخــه کــې همــدا یــو د طــب پوهنځــی فعالیــت کــوي، خــو لــوړو زده کــړو وزارت ورتــه پــه کال کــې یــوازې د سلو محصلینــو د جــذب اجــازه ورکــړې ده، پــه داســې حــال کــې چــې هــر کال د زرو پــه شــاوخوا کــې محصلیــن پــه یــاد پوهنځــي کــې د زده کــړو لپــاره نوملیکنــه کــوي. دوی وایــي، لــه لــوړو زده کــړو وزارت څخــه یــې هیلــه دا ده چــې د دوی امکاناتــو تــه پــه کتــو چــې برابــر کــړي یــې دي، بایــد لږ تــر لــږه د څلــورو ســوو پــه شــاوخوا کــې د نویــو محصلینــو د جــذب اجــازه ورکــړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸۶,۳۰ |
| Rp. | ۴۹۶ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱,۲۰ |
| £ | ۹۹,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - دهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - دهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# آیا دیر غذا خوردن باعث چاقی می‌شود؟

ترجمه: احمد فردوسی


چاقی و از دست‌رفتن تناسب اندام از جمله دغدغه‌هایی است که تقریباً همهٔ ما داریم. اما قبول دارید؟ بعضی از افراد هم با جابه‌جاشدن وعده‌های غذایی‌شان و به تأخیر افتادن آنها وزن‌شان اضافه می‌شود و مدام نگران‌اند که مبادا با تغییر زمان غذا خوردن دچار اضافه وزن شوند. یکی از پیشنهادهای مناسب برای این افراد این است که قبل از ساعت هشت شب شام بخورند. البته نمی‌توان دربارهٔ ساعت دقیق شام‌خوردن و وعده‌های غذایی نظری قطعی ارائه کرد. در این مقاله به این پرسش پاسخ می‌دهیم که آیا دیر غذا خوردن شما را چاق می‌کند یا خیر؟ همراه ما باشید.

**غذا خوردن و ساعت زیستی بدن**

این عقیده که دیر غذا خوردن باعث چاقی می‌شود، نتیجهٔ مطالعاتی است که روی حیوانات صورت گرفته بود. در این مطالعات، دانشمندان چه کشف کرده بودند که ممکن است بدن بعد از ساعات مشخصی از شب به‌طور متفاوتی کالری‌ها را مصرف کند. برخی از دانشمندان معتقدند که غذا خوردن در شب خلاف ساعت زیستی و ریتم بدن است. منظور از ریتم و ساعت بیولوژیک بدن چرخه‌ای ۲۴ ساعته است که به بدن می‌گوید، چه زمانی باید بخوابد؟ چه وقت بیدار شود و غذا بخورد؟ بنا بر ساعت زیستی بدن، شب‌ها مخصوص استراحت است نه غذا خوردن.

مطالعات و پژوهش‌های مختلفی که در این زمینه و درمورد حیوانات صورت گرفته، بر درستی عقیدهٔ دانشمندان صحه می‌گذارد. موش‌هایی که در شب غذا می‌خوردند و برخلاف ساعت زیستی بدن خود عمل می‌کردند، نسبت به موش‌هایی که در روز غذا مصرف می‌کردند، وزن بیشتری داشتند. حتی در زمانی که میزان غذای مصرفی هر دو گروه یکسان بود، بازهم موش‌هایی که شب‌ها غذا می‌خوردند از موش‌های دیگر چاق‌تر می‌شدند.

البته تمام مطالعاتی که در این زمینه و در مورد انسان‌ها صورت گرفته، نتایجی مشابه نداشته است. در واقع، آنچه دربارهٔ افزایش و کاهش وزن انسان‌ها مطرح است، زمان مصرف غذا نیست، بلکه میزان و مقدار غذایی است که مصرف می‌کنند. برای مثال، مطالعه‌ای که روی ۱۶۰۰ کودک انجام شد، هیچ ارتباطی را میان مصرف غذا بعد از ساعت هشت شب و چاقی نشان نداد. بنا بر این تحقیق، کسانی که دیرتر شام می‌خوردند، مجموع کالری واردشده به بدن‌شان بیشتر نبود. اما زمانی که، در پژوهشی دیگر، محققان روی ۵۲ فرد بالغ تحقیق کردند، به این نتیجه رسیدند که افرادی که بعد از ساعت هشت شب شام می‌خورند نسبت به کسانی که زودتر غذا می‌خورند، کالری بیشتری دریافت خواهند کرد. کالری اضافی دریافتی این افراد به مرور زمان منجر به اضافه‌وزن می‌شود. زمانی که کالری موردنیاز بدن در طول روز تأمین می‌شود، نمی‌توان ساعت مصرف غذا را دلیلی برای چاق‌شدن دانست.



**کسانی که دیر غذا می‌خورند، بیشتر غذا می‌خورند**

یکی از فرضیه‌هایی که دربارهٔ چاق‌شدن به‌واسطه دیر غذا خوردن وجود دارد، این است که وقتی دیر شام می‌خورید، میل بیشتری به غذا خوردن خواهید داشت. فارغ از اینکه زمان مصرف غذا چه ساعتی است، میل به بیشتر خوردن باعث می‌شود چاق شوید. برای‌مثال، محققان به رابطه میان مجموع کالری دریافتی و زمان مصرف غذا دقت کرده‌اند و ۵۹ نفر را در این زمینه مورد بررسی قرار داده‌اند. در این پژوهش، مشخص شده است که دیر غذا خوردن باعث می‌شود میل بیشتری به خوردن وجود داشته باشد و کالری بیشتری به بدن افراد وارد شود. این موضوع در مطالعه در مورد افرادی روشن شده که غذای خود را زودتر میل می‌کنند.

پژوهشی دیگر نشان می‌دهد، مصرف غذا از ساعت ۱۱ شب تا ۵ صبح نسبت به مصرف آن در طول روز ۵۰۰ کالری بیشتر به بدن وارد می‌کند. در طول زمان، کسانی که شب‌ها غذا می‌خورند نسبت به کسانی که در طول روز غذا می‌خورند، ۴,۵ کیلوگرام وزن بیشتری خواهند داشت. این موارد نشان می‌دهد که آنچه باعث می‌شود غذا خوردن در شب شما را چاق‌تر کند، چیزی مرموز و پنهان در سیاهی شب‌ها نیست، بلکه عامل اصلی بیشتر خوردن و افزایش کالری ورودی است. یعنی این عادت که دیر وقت شام بخورید، معمولاً با جذب کالری بیشتر همراه است و به‌طور طبیعی، هر قدر کالری مصرفی‌تان بیشتر باشد چاق‌تر می‌شوید.

**دیر غذا خوردن و اثرات آن بر انتخاب نوع غذا**

**خوردن کیک**

دیر غذا خوردن، علاوه بر اینکه باعث می‌شود بیشتر بخورید، به انتخاب غذاهایی می‌انجامد که ارزش غذایی زیادی ندارند. اگر دقت کرده باشید، در شب‌ها بیشتر میل به مصرف مواد پر کالری و ناسالم وجود دارد. نوشابه، بستنی و چیپس از جمله گزینه‌هایی هستند که به‌قول‌معروف، در شب هنگام بسیار می‌چسبند، اما متأسفانه ارزش غذایی بسیار اندکی دارند.

یکی از دلایلی که باعث می‌شود در شب‌ها، میل به مصرف چنین غذاهایی وجود داشته باشد، دسترسی آسان‌تر به آنهاست. مثلاً، تهیه یک سالاد مقوی و خوشمزه در ساعت ۱۲ شب چندان مقدور نیست.

افرادی که در نوبت شب کار می‌کنند، معمولاً میل بسیار به مصرف غذاهای ناسالم و تنقلات دارند. یکی از علل اصلی این انتخاب غذایی نامناسب دسترسی‌نداشتن به گزینه‌های بهتر و سالم‌تر است. خوردن هیجانی هم دلیل دیگری است که می‌توان از آن یاد کرد. منظور از خوردن هیجانی مصرف غذا تحت‌تأثیر هیجاناتی نظیر اضطراب، نگرانی، خستگی یا ناراحتی است. خستگی میل به مصرف غذاهای پر کالری را در شما بیشتر می‌کند. این پدیده احتمالاً ریشه در تغییرات هورمونی دارد و به علت بی خوابی روی بیشتر شدن اشتها هم اثر می‌گذارد.

زمانی که از اضافه‌وزن سخن می‌گویم، باید دقت داشته باشید که مقدار غذایی که می‌خورید، مهم‌تر از زمانی‌ست که آن مقدار غذا را می‌خورید. اگر مواد غذایی را به‌اندازهٔ نیازهای بدنی روزانه‌تان مصرف کنید، حتی غذا خوردن در شب هم نمی‌تواند باعث چاقی بشود.

اگر بعد از شام‌خوردن همچنان به‌طور جدی گرسنه بودید، باید به سراغ مصرف غذاها و نوشیدنی‌هایی بروید که مقوی و مغذی هستند. در ادامه به تعدادی از آنها اشاره شده است که کالری اندک و ارزش غذایی مطلوبی دارند:

هویج و کرفس با خوراک حمص؛
تکه‌های سیب با اندکی کره بادام زمینی یا کره‌های دیگری که با مغزهای دیگر درست می‌شوند؛
ذرت بوداده ساده؛
چند حبه انگور.

**زمان‌بندی و دفعات مناسب غذا خوردن خوردن در شب**

اگرچه میزان کالری مصرفی درنهایت عامل اصلی چاقی یا لاغری است، اما پژوهش‌ها نشان می‌دهند که با تنظیم دفعات و زمان‌بندی مصرف غذا در طول روز می‌توان میزان کالری مصرفی را کنترل کرد. برای‌مثال، خوردن صبحانه مفصل باعث می‌شود که مدت طولانی‌تری سیر بمانید و نیازی به غذا خوردن و مصرف تنقلات در شب‌هنگام نداشته باشید.

در یک تحقیق، افرادی که در هنگام صبحانه ۶۰۰ کالری مصرف می‌کردند، نسبت به کسانی که ۳۰۰ کالری در صبح وارد بدن‌شان می‌شد، در طول روز، کمتر به خوردن تنقلات میل پیدا می‌کردند. با خوردن صبحانه‌ای مفصل، اشتها، به‌ویژه برای خوردن شیرینی‌جات، کاهش می‌یابد. یادتان باشد که اگر دیر شام خوردید و صبح با احساس سیری بلند شدید، دیگر نیازی به مصرف صبحانه، دست‌کم در زمان معمول و همیشگی آن، نیست. صبر کنید تا گرسنه شوید و بعد به غذا خوردن مشغول شوید.

برخی از مطالعات هم حاکی از آن است که به بیشتر کردن وعده‌های غذایی و در عوض مصرف مقدار کمتر غذا در هر وعده باعث می‌شود که میزان کالری مصرفی هم تحت‌کنترل‌تان باشد و از احساس گرسنگی‌تان در طول شبانه‌روز کاسته شود. مدیریت کالری‌های مصرفی از این طریق ممکن و میسر می‌شود.

# سیګار: افغان حکومت د نشه يي توکو لوی قاچاق کوونکي نه نيسي

د افغانستان د بيارغونې لپاره د امريکا سرمفتېشي اداري يا سيګار ويلي، افغان حکومت د نشه يي توکو لوی قاچاق کوونکي نه نيسي.

په ورته وخت کې د امريکا دفاع وزارت سيګار ته ويلي چې افغان ځواکونه له نشه يي توکو سره د مبارزې توان لري او د امريکايي نظامي ځواکونو مرستې ته اړتيا نه لري.

خو د سيګار څېړنې بيا ښيي چې په دې وروستيو پنځو کلونو کې د کورنيو چارو وزارت په مشرۍ کې بدلون، له نشه يي توکو سره مبارزه ټکنۍ کړې ده. دغه ډول يې له نشه يي توکو سره د مبارزې ځانګړې پوليس او د کوکنارو اړولو کشفي ځواکونه او قطعات هم کمزوري کړي دي.

سيګار په خپله ارزونه کې د امريکا د عدليې وزارت د راپور له مخې ويلي چې افغان حکومت د نشه يي توکو لوی قاچاق کوونکي نه نيسي او ځينې زورواکي د نشه يي توکو په قاچاق کې لاس لري.

خو د کورنيو چارو وزارت مرستيال محمد هاشم اورتاق بيا له نشه يي توکو سره د دوی مبارزه بريالۍ بللې ده.

نوموړي ويلي چې يوازې په تېرو شپږو مياشتو کې يې د لويو قاچاق کوونکو په ګډون، د نشه يي توکو څلور زره قاچاق کوونکي نيولي دي.

د هغه په خبره: «موږ د هېواد په کچه درې زره عملياته کړي، د دې عملياتو په نتيجه کې مو د نشه يي موادو د قاچاق په تور څلور زره کسان نيولي چې ستر قاچاق کوونکي هم پکې شامل دي. افغانستان د نشه يي موادو قرباني هېواد دی، ځکه نو بايد يوازې په افغانستان کې نه، بلکې په نړيواله او سيمه ييزه کچه مبارزه ورسره وشي. که په نړۍ کې د نشه يي موادو غوښتنه را کمه کړل شي، په افغانستان کې يې کښت خپله کمېږي، له بده مرغه چې اوس يې په نړۍ کې غوښتنه ډېره ده».

د سيګار د راپور پر اساس، د امريکا نړيوالې پراختيايي اداري يا (USAID) له دوی سره ژمنه کړې چې له افغان بزګرانو سره به د زراعتي سکټور د ظرفيت لوړولو په برخه کې مرسته کوي.

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د امريکا متحده ايالتونو له نشه يي توکو سره د مبارزې ځانګړې ستراتېژي درلوده، خو له ۲۰۱۷ز کال راهيسې له نشه يي توکو سره مبارزه د جنوبي اسيا د نظامي ستراتېژۍ برخه ګرځېدلې او له قاچاق کوونکو سره مبارزه هم افغان دولت ته سپارل شوې ده.

بلخوا د مشرانو جرګې له نشه يي توکو سره د مبارزې پخوانۍ غړې رڼا ترين ويلي، حکومت يوازې واړه قاچاق کوونکي نيسي، تر اوسه يې هېڅ داسې لوی قاچاق کوونکی نه دی نيولی چې هغه دې نشه يي توکي له افغانستانه اروپايي بازارونو ته وړي.

مسیر ورځپانه
مسوول مدير: اسدالله وحيدي
مرستيال: شفيق اميرزی
ايډېټران: جواد تيموري او امان الله حنيفي
ليکوالان: اپمل خان، نذير احمد سهار
او شفيق همدرد
خبريالان: حميدالله حميدي، حکمت آرين
او حشمت الله نوري
ګرافيک او ډيزاين: ارمان
چاپخونه: وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily




المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.


یکشنبه د ۱۳۹۸ د لړم ۱۹مه | د ۲۰۱۹ د نومبر لسمه | ۴۵۹مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | ۱۷ | ۲۰ | ۱۷ | ۲۵ | ۲۱ |
| ۱ | ۱ | ٤ | ۲ | ۹ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵٦ | لمر ختل ۰٦:۲۰ | ماسپښین ۱۱:۳۸ | مازیگر ۰۲:۳۲ | ماښام ۰٤:۵٤ | ماخوستن ۰٦:۲۰


## نړۍ



# مایک پامپیو: په ناټو سازمان کې باید پراخ او جدي بدلونونه راوستل شي

۳

## لاوروف: هڅه کوو چې له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال اټومي تړون وژغورو



د روسیې د بهرنیو چارو وزیر سرگي لاوروف ویلي، هیله لري چې د نړۍ د پیاوړو قدرتونو او ایران تر منځ اټومي هوکړه به سره له دې چې واشنگټن ترې وتلی، وژغورل شي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا د تیر کال په مې میاشت کې له ایران سره د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي هوکړې ووته او له هغه راهیسې یې پر ایران نوي بندیزونه لگولي دي.

امریکا ویلي چې د دغو بندیزونو موخه یې دا ده چې ایران بېرته د مذاکراتو مېز ته کېنوي.

د ټرمپ په مشرۍ د امریکا حکومت ویلي چې د دې هوکړې شرایط کافي نه دي چې د اټومي وسلو له جوړولو د ایران مخه ونیسي. متحده ایالتونو ویلي، ایران باید د بالستیک توغندیو له پروگرامه او په منځني ختیځ کې له تخریبي فعالیتونو لاس واخلي.

خو ایران بیا بیا د امریکا دغه تورونه رد کړي چې گواکې غواړي داسې بالستیک توغندي جوړ کړي، چې اټومي وسلې انتقال کړای شي او وايي، اټومي پروگرام یې سوله ییز دی او هدف یې د انرژۍ تولید دی.

د یادونې ده چې له یادې هوکړې د امریکا تر وتلو وروسته، د هوکړې نورو غړو هېوادونو ویلي، هڅه کوي چې له ایران سره یاد تړون ته ژمن پاتې شي، خو تهران خبرداری ورکړی چې که یاد هېوادونه خپلې ژمنې عملي نه کړي، په بشپړه توگه به له دغه تړونه ووځي.

## ترکیه: د داعش ډلې بندي جنگیالي به خپلو هېوادونو ته ولېږو



د ترکیې د کورنیو چارو وزارت ویلي چې د داعش ډلې بندیان به له ترکیې خپلو هېوادونو ته واستوي.

د دغه هېواد د کورنیو چارو وزیر سلیمان سویلو ویلي چې د داعش ډلې د دغو جنگیالیو د ستنېدو بهیر به سبا پیل شي.

دا په داسې حال کې ده چې د ترکیې د کورنیو چارو وزارت د شمېرو پر بنسټ، کابو ۱۲۰۰ داعش جنگیالي په ترکیه کې زنداني دي.

د یاد هېواد د کورنیو چارو وزارت په دې اړه ویلي: «موږ د داعش دغه بندیان چې کردي جنگیالیو ازاد کړي وو، بندیان کړي. هغوی به خپلو هېوادونو ته واستوو. هغوی زموږ خلک نه دي».

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې ځینو اروپایي هېوادونو ویلي وو چې د هغوی دغه وگړي په کوم ځای کې چې نیول شوي، هملته باید محاکمه شي؛ ځکه هملته یې په ترهگرۍ لاس پورې کړی، خو ترکیه دغه استدلال نه مني او وایي: «اروپا وایي چې د دغه هېواد وگړیتوب یې ترې اخیستی. هر کار چې غواړي، وکړئ، خو موږ به د داعش دغه جنگیالي بېرته تاسو ته واستوو. هغوی ستاسو وگړي دي. ترکیه د داعش جنگیالیو هوټل نه دی».

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د سوریې په شمال- ختیځه برخه کې کردي جنگیالیو ویل چې په دې سیمه کې د ترکیې د عملیاتو له پیل وروسته، په سلگونو داعش جنگیالیو له زندانونو تېښته کړې، خو ترکیې بیا کردان د دغو جنگیالیو په ازادولو تورن کړي دي.

## وزارت معارف: برای اصلاح نصاب تعلیمی نشست مشورتی برگزار می کنیم



وزارت معارف می گوید که به هدف شمولیت شهروندان در تعلیم و تربیه، مردمی سازی معارف، جمع آوری دیدگاه‌ها و نظرات شهروندان در مورد ضرورت تجدید نصاب تعلیمی و نیز چگونگی محتوای نصاب تعلیمی؛ برای نخستین بار نشست مشورتی را برگزار می کند.

در یک خبرنامه که از طرف این وزارت منتشر شده، آمده است که هدف از این نشست که به تاریخ ۲۰ الی ۲۳ عقرب سال روان خورشیدی برگزار می شود، دریافت دیدگاه‌ها و نظرات شهروندان در قسمت اصلاح نصاب تعلیمی است.

منبع افزوده است که قرار است در این نشست، نزدیک به ۳۰۰ تن از شهروندان کشور (مشمول معلمان مکاتب، متخصصان حوزه تعلیم و تربیه، نماینده گان شورای علما، استادان پوهنتون، نماینده گان ادارات دولتی، والدین شاگردان و نیز نماینده گان کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان) اشتراک نمایند.

در خبرنامه آمده است که وزارت معارف، مصمم است تا نصاب تعلیمی قابلیت محور را بر اساس دیدگاه‌ها و خواست مردم تهیه نماید.


وزارت معارف گفته است که گروپ‌های کاری در این نشست مشورتی، در باره موضوعاتی چون رشته‌بندی مکاتب در دوره لیسه، ادغام برخی مضامین درسی، آموزش زبان‌ها و نیز تعلیمات فراگیر، بحث و گفت‌وگو می نمایند .

در خبرنامه تذکر داده شده که یافته های این نشست، به عنوان راهکار پیشنهادی مردم، در نصاب جدید تعلیمی وزارت معارف در نظر گرفته خواهد شد.

این وزارت افزوده است که فراخوان این نشست، حدود یک ماه پیش از طریق صفحات اجتماعی مرتبط به معارف، صادر شده و از شهروندان درخواست شده است تا در قسمت برنامه ریزی برای شمولیت تصامیم خود در قبال آیندهٔ فرزندان شان، در این نشست اشتراک نمایند.

## ژوند


## په ښځو کې د زړه ناروغي



د زړه ناروغي له پامه نه شي غورځول کېدای. د امریکا د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وايي، په ټوله نړۍ کې یوازې ۵۴ سلنه ښځې دې پېښې ته متوجه شوې دي. د زړه د ناروغیو په اړه وړاندوینه او له دې ناروغۍ څخه ځان ژغورل ډېره جدي مسئله ده، چې باید پام ورته وشي. په دې لیکنه کې د زړه د ناروغیو له هغو نښو نښانو سره اشنا کېږئ، چې د ښځو د مړینې لامل کېږي. د نیویارک په هیل لنوکس روغتون کې د ښځو د زړه د سلامتیا د موسسې رییس او د نړیوالې تغذیې د ټولنې بنسټ اېښودونکې ډاکټر سوزان شتاینباوم وايي، د زړه ناروغۍ په ټوله کې د رگونو د تنگوالي له کبله منځ ته راځي، خو دا چې زړه له څلورو برخو جوړ شوی، نو ناروغۍ یې هم په بېل بېل ډول د هرې برخې اړوندې کېدای شي.

په امریکا کې د زړه ناروغۍ د وقایې مرکز وايي، د زړه ناروغۍ د ښځو د مړینې اصلي لامل دی. دغه مرکز وايي، په هرو څلورو مړې کېدونکو ښځو کې د یوې د مړینې لامل د زړه ناروغي وي. دغه محاسبه د نارینه‌وو لپاره هم صدق کوي او د نارینه‌وو په مړینه کې هم

## د خپل ارزښت قدر وکړئ!



کله چې خدای پاک خپل روح په انسانانو کې پوه کړ، په دې مانا چې د هغوی پر سر یې یو تاج کېښود. دې تاج ته د شکر او افتخار نوم ورکړل شو. ستاسې پر سر دا تاج د حاکمیت مانا ورکوي، د لطف او مهربانۍ مانا ورکوي او دا تاج د دې ښکارندویي کوي چې تاسې یو عادي مخلوق نه یاست. تاسې له یوې سلطنتي کورنۍ څخه یاست. کله مو چې دا تاج پر سر وي، له کبله یې د وياړ احساس وکړئ او له ځان سره داسې فکر وکړئ:

حق لرم چې د خدای پاک له لطفه برخمن شم. دا زما حق دی چې بریالی ژوند وکړم او په مخ کې پرتې ستونزې او خنډونه له منځه یوسم، دا ځکه چې خدای پاک زما پر سر د افتخار تاج اېښی دی.

د ځان درک کول مو په ژوند کې بدلون راوستلی شي. که د نورو خلکو خولې ته وگورئ او د هغوی پر خبر باور وکړئ، بیا نو تاسې یو معمولي کس یاست. که فکر وکړئ چې تر نور ټیټ او کمزوري یاست او په خپلو پخوانیو تېروتنو کې ځان غرق کړئ، نو هغه ده چې وړتیاوې مو محدودېږي. نو بیا به څه پېښېږي؟ بیا به مو پر سر دا تاج نه وي.